# له مسلمان څخه چې کله په قبر کې د شهادت د کلمې پوښتنه وشي هغه به وايي چې: أشهدُ أن لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ

له البراء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له مسلمان څخه چې کله په قبر کې د شهادت د کلمې پوښتنه وشي هغه به وايي چې: أشهدُ أن لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ» نو دا د الله تعالی د همدې وینا مصداق دی چې فرمايي: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ} [إبراهيم: 27]. کلکوي ( مضبوطوي په صحيح جواب ورکولو سره) الله تعالی مؤمنانو لره په مضبوطه وینا (کلمه د حق) باندې په دنیوی ژوند او آخرت کې.

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

له مسلمان څخه په قبر کې پوښتنه کيږي، دوه ملايکې ترې پوښتنه کوي چې منکر او نکير نوميږي او دا نومونه يې په ډيرو حديثونو کې راغلي او دوی ته همدا دنده ورسپارل شوې. نو ګواهي به ورکوي پر دې چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، همدا هغه ثابته وینا ده چې الله تعالی يې په اړه فرمايلي: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ} [إبراهيم: 27]. کلکوي (مضبوطوي په صحيح جواب ورکولو سره) الله تعالی مؤمنانو لره په مضبوطه وینا (کلمې د حق) باندې په دنیوی ژوند او آخرت کې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4206